# د شمس الدین کاکړ د زوکړې د ځائ یوه تجزیه

An Analysis of the Birth Place of Shamsuddin Kakar

حافظ رحمت نیازی
فیض الله پانیزی

Abstract: Shamsuddin Kakar is one of the prominent classic poets of Pashto language. Although scholars of Pashto language and literature mentioned the place of birth of Shamsuddin Kakar in Kulchabad outskirts of Kandahar in the light of his "Deewan" published sixty years back but an earlier "Deewan" from which Shamsuddin himself extracted and selected his ghazals, have not yet been found.
The authors of this paper referring to assorted witnesses; analysied the arguments academically and proved their presumption and assertion being wrong and strive to trace out the place strongly which opine Kulchabad or other places as place of birth of Shamsuddin Kakar.

د پښتو ژبې د نورو کلاسیکي شاعرانو غوندې شمس الدین کاکړ هم یو داسې شاعر دی چې د ژوند حالات ئې په صحیح ډول نهٔ دي معلوم. د هغهٔ د زوکړې ځائ په حقله ځنې عالمانو خپل نظرونه وړاندې کړي دي خو د دغو محققینو رائې یو له بله سره بېلې دي. ځنې محققین ئې د ځهٔ سند بغیر د ږوب (ژوب) اوسېدونکی ګڼي او ځنې ئې د کندهار پیدائشي ګڼي. ځنې لیکوالان خو په دې مغالطه کښې هم ولوېدل چې تر ډېره وخته پورې ئې د شمس الدین غلجي کتابونه، شمس الدین کاکړ ته منسوب کول، دا ځکه چې شمس الدین کاکړ د خپل خوندور، پاخهٔ او ښایسته شعر له کبله دومره شهرت میندلی ؤ چې چرې به هم د شمس الدین نوم یاد شو هغه که به بل کوم شمس الدین ؤ نو هم به لوستونکیو دا خیال کاوهٔ چې دغه هم هغه شمس الدین کاکړ دی کوم چې د خپل خوږهٔ شعر له کبله مشهور دی. خو دغه ستونځه محققینو داسې حل کړه چې د پښتو

ژبې په ادبي ډګر کښې ئې د يوۀ شمس الدين کاکړ په ځائ دوېم شمس الدين غلجی هم ښکاره کړلو او دا ئې ثابته کړه چې:

"د ديارلسمې هجري پېړۍ په شا و خوا کښې د کندهار په پراخه فرهنګي حوزه کښې د پښتو ادب د شعر او نثر پر ورشو دوه "شمس الدينه" لرو. يو د پښتو ديوان لرونکی شاعر شمس الدين کاکړ چې د کندهار په کلچاباد [کلچ اباد] کښې اوسېدۀ او بل د "سراج الموتٰی" مرحوم الموتٰی" تحفة العابدين" خلاصة المريدين" فرايض ميراث" او "مذهب نامې" مؤلف شمس الدين غلجی چې د کندهار د ميوند د سيمې په کشکي نخود کښې ئې ژوند کاوۀ. په دوئ دوو کښې شمس الدين کاکړ د خپل سوځنده شعر او عالي تخيل له امله تر خپل دا بل همنامي د ډېر شهرت خاوند ؤ. ادبي څېړنو ته هم د شمس الدين کاکړ نامه وار د واره لاړ مونـدلې ده. د دغو څېړنو په تعقيب که و چا ته د دوهم شمس الدين د نامه او اثارو د کتلو موقع برابره شوې ده. څرنګه چې دواړه يوې فرهنګي حوزې او تقريباً يوۀ تاريخي عصر ته منسوب وو ځکه نو د دوهم شمس الدين اثار هم د شمس الدين کاکړ له قلمه راوتلي ګڼل شوي دي. هم دا سبب دی چې په پښتانۀ شعراء دويم ټوك كښې د شمس الدين كاكړ په اثارو كښې د "سراج الموتٰی" نوم راغلی دی. تاريخچۀ شعر پښتو" به هم غالباً همداراز وي. ځکه په پښتانۀ شعراء کښې د شمس الدين کاکړ سوانح د "تاريخچۀ شعر پښتو" د ليکوال له خوا ليکل شوې ده. کله چې پښتو ټولنې د شمس الدين کاکړ ديوان خپور کړ (1333ش) د شاعر د ژوند ليك ليكونكي د پښتانۀ شعراء په حواله "سراج الموتٰی د شمس الدين کاکړ وبلله. د کابل پوهنتون له خوا چې د خلاصة المريدين" په نامه د شمس الدين اثر خپور شو (1344ش حمل) هورې ئې له دې دوو تنو څخه يو تن شمس الدين کاکړ جوړ کړ. له کلچ اباده ئې تر کشکي نخوده ورساوۀ. او هورې ئې پسې مړ او ښخ کړ"(1)

په تاريخچۀ شعر پښتو کښې علامه عبدالحی حبيبي د يوويشت شاعرانو حال ورکړی دی چې شمس الدين کاکړ هم په کښې دی او د دۀ د

کلي نوم ئې قلبچ اباد ليکلی دی. په دې د سراج الموتٰی د فقه تبحر ته نسبت کړی دی او ليکي چې"نسخې ئې ليدل شوې دي خو دۀ په خپله نۀ وه ليدلې. تر کومه حده چې د تاريخچۀ پښتو حواله ده هغه د شمس الدين د بل ديوان حواله ورکړې ده چې تر اول دفتر زيات شعرونه لري. هغه ديوان تراوسه نۀ دی معلوم شوی:

ما تمام دوېم دفتر کړ :: تر اول مې مختصر کړ(2)

د استاد حبيبي د کابل په سالنامه کښې د تاريخچۀ سبکهائې اشعار پښتو يوه درنه مقاله چاپ شوې ده چې په شمس الدين کاکړ پورې د سراج الموتٰی کتاب تړل شوی دی:

"شمس الدين کاکړ دراواخر عصر احمد شاهی بحدود (1180هـ درکلچ اباد کندهار تولد و از پير محمد استاد سبك علم و ادب آموخت و روش ادبی حضرت استاد را احياء کرد. شمس الدين درعنفوان شباب به عشق سوزانی مبتلا گرديد و درين هياهو از وطن برآمد و مدتی درهند و پنجاب متواری ماند و درآنجا بياد وطن اشعار طربناکی سرود و بوم و زاد و کوهسار خويشتن راستود. شمس الدين نيکو عالمی بود و بزرگار خويش درعلوم دينيه و ادبيه و فلسفه نامی داشت و علاوه بر ديوان اشعار که از حدود پنج هزار بيست بسال 1138هـ تمام کرد، کتابی را به نام "سراج الموتٰی" نيز منظوم فرمود"(3)

ترجمه: (شمس الدين کاکړ د احمد شاهي دور په وروستۍ زمانه کښې د 1180هـ په شاوخوا کښې د کندهار په کلچ اباد کښې پيدا شو او له استاد پير محمد څخه ئې د علم او ادب زده کړ او د استاد د ادبي سبك احيا ئې وکړه. شمس الدين کاکړ په تانده ځوانۍ کښې په سوزناکه عشق گرفتار شو او په همدغه وخت کښې له وطنه دباندې ولاړ او په هند و پنجاب کښې استوگن شو. او د خپل وطن په ياد کښې ئې خوندور شعرونه ووئيل او د وطن غرونه ئې وستائيل، شمس الدين کاکړ يو ښۀ عالم ؤ او په ديني، ادبي او فلسفيانه علومو ئې ښۀ قدرت لرلو. او خپل

دیوان ئې په پينځۀ زره شا و خوا شعرونو مشتمل په 1138هـ کال بشپړ کړ. او د سراج الموتٰی په نامه ئې هم يو کتاب منظوم کړ).

په پورتني اقتباس کښې چې له علامه حبيبي صاحب نه کومه تېروتنه شوې وه وروسته نورو ډېرو څېړونکو هم ترې اخستنه وکړه چې سمه نۀ معلومېږي او علت ئې هم دا کېدلی شي چې دوئ دا نسخه کتلې نۀ وه. د سراج الموتٰی په نسخه باندې ښاغلي عبدالکريم بريالي هم کار کړی دی او د هغۀ د فقهې په علم باندې ئې هغه کتابونه ياد کړي دي چې د پښتونخوا په وطن کښې زمونږ عالمانو ليکلي دي او د دغې تېروتنې اصلاح ئې هم کړې ده.(4) پوهاند حبيبي د پښتانۀ شعراء په دوېم ټوک کښې ليکي چې:

"شمس الدين ډېر وختونه له خپله هيواده ورك او په لاهور او پنجاب کښې د بېلتون په رنځ ککړ ؤ. ځکه چې سردار عظيم خان د (1230هـ) په حدودو په کشمير او پنجاب حاکم ؤ او په دغو وختو کښې شمس الدين له 40 تر 50 کالو وو نو دا وئېلی شو چې زمونږ شاعر پس له 1180هـ زوکړی دی"(5). خو بيا هم هيڅ يوۀ محقق د دې ليکوال د ځائ په حقله په کره توګه نۀ دي ليکلي.

دا اوسنۍ وروستۍ څېړنه د شمس الدين کاکړ د زوکړې په حقله ده چې يو ډول ادبي او تحقيقي تېروتنې په کښې شوې دي. او تراوسه بشپړه څېړنې ته اړتيا لري. ځنې محققين د دوئ د زوکړې په اړه دا فکر هم لري چې:

" شمس الدين کاکړ غالباً د کاکړستان يعنې ږوب او بوري د سيمې څخه قندهار ته تللی ؤ. و دې خبرې ته ښاغلي عزيز الله واصفي په خپله ديباچه کښې هم اشاره کړې ده"(6)

دا کېدی شي چې د شمس الدين کاکړ نيکۀ ګان له دغې سيمې څخه کندهار ته تللي وي خو د شمس الدين له دغې سيمې څخه کندهار ته تګ د شهادتونو نۀ لرلو له کبله ذهن نۀ مني او ښاغلی صاحبزاده حميد الله صاحب د هغۀ له ږوب (ژوب) يا بوري څخه کندهار ته د تللو

خبره په داسې انداز کوي ګوا چې شمس الدين کاکړ واقعي له ړوبه يا بوري څخه کندهار ته تللی دی. صاحبزاده صاحب چې پورته کومه اشاره ذکر کوي د هغې په حقله عزيز الله واصفي د شمس الدين د ديوان په پاييزه کښې ليکي:

"د شمس الدين کاکړ د پوره پېژندګلوي دپاره چې مو څۀ اثار موندلی شو هغه مو ولټول دغه شان د دۀ د ديوان دوېمه برخه مو هم وپلټله خو له بده مرغه چې د دۀ پوره سوانح په لاس را نغله. د دۀ د وينا څخه داسې ښکاري چې دی اصلاً کاکړ دی او د کندهار د کلچ اباد په کلي کښې اوسېدۀ. په کلچ اباد کښې د ډېرې مودې راهيسته پوپلزي اوسيږي او تراوسه هم دا کلی د پوپلزو په نامه دی. که څۀ هم دغه کلي ته نور توکومونه راغلي او تللي دي خو د پښتنو په اصطلاح هغوئ ته ګاونډيان وائي. ځکه چې شمس الدين په ختمه کاکړ ؤ نو په ټينګ ګمان د دۀ کورنۍ په دغه ځائ کښې د ګاونډيتوب په توګه هستېدله".(7)

د عزيز الله واصفي په متن کښې د شمس الدين کاکړ د استوګنې د ګمان خبره شوې ده او د کندهار کلچ اباد ته شايد چې د شمس الدين کاکړ کورنۍ راغلې وي. خو دا خبره بيا هم ښکاره نۀ ده چې د هغۀ کورنۍ دې له بوري يا ړوب څخه راغلې وي. خو په دې کښې هيڅ شك نشته چې د ړوب لويه ناوه تر سيوۍ بيا تر چمن پورې د کاکړو اکثريتي استوګن ځائ دی. خو له دې پرته په بره پښتونخوا کښې زياتره کاکړان په کندهار، هلمند، بادغيس، هرات، ميمنه، کندوز، کابل، ننګرهار، غزني، مزار، فراح او ځنو نورو سيمو کښې هم ميشت دي. همدغسې په پېښور کښې د کاکړو ځنې کورنۍ ابادې دي.

کله چې په هندوستان د پښتنو باچاهي وه نو هلته د هند په بېلا بېلو رياستونو کښې د پښتنو ډېرې قبيلې ابادې شوې، په هغو کښې يوه قبيله د کاکړو هم وه. د هند په هغو رياستونو کښې چرې چې د کاکړو له نورو پښتنو سره استوګنه ياده شوې ده. په هغو رياستونه کښې راجستان، ممبۍ، ډيلي، رامپور، ګجرات، بنګال او ځنې نورو ښارونو

کښـــې ابـــادې دې او دوئ تـــر اوســـه خپـــل کلتـــور ژونـــدی ســـاتلی دی. او پـــه ودونو کښې کاکړې غاړې وائي.

د دې خبـرې اثبـات د جېپــور رياسـت اوسـېدونکې ژورنالسـته شـليفي بطراح کاکړه په يوه رېډيو مرکه کښې داسې کوي:

"زمـا نـوم شـليفي ده زۀ لـه انډيا څخـه راغلـې يم پـه جېپـور کښـې زۀ يـوه رپورټره يم او فلم ډاکومېنټري مېکره يم"(8).

ښاغلی اجمل تورمان په جېپور کښې د کاکړو د استوګنې په حقله وائي:

"پـه جېپــور کښــې شــاو خــوا پينځــۀ ســوه کــاکړ ښــتانۀ شــته خــو دوئ پــه خپله ژبه ليك او لوست نۀ دی زده"(9).

محترمه شليفي بطراح په خپله مرکه کښې وړاندې داسې وائي:

"مــونږ پينځــۀ ســوه تنــه ســړيان او نجــونې پــه پښــتو خبــرې کــوو پــه پښــتو کښـې مشـران ښـې خبـرې کـوي مـونږ لـه دغـونې نۀ راځـي پـه هنـدي ګـائېږو يـا پــه انګلــش ګــائېږو. مــونږ د راجســتان يونيورســټۍ ډائرېکټــر تــه يــو لېټــر وليکــۍ چــې زۀ د پښــتو لېنګــوېج کــورس پــه راجســتان يونيورســټۍ کښــې شــروع کــوم مــونږ تــه لــه افغانســتان څخــه د يــو ټيچــر ضــرورت دی چــې ټرېننـګ راکـړي، بيـا زۀ د يـو فلـم ډاکـومېنټري جـوړوم د ډاکـومېنټرۍ دپـاره ډېر فن په کار دی دغسې زۀ کار نۀ شم شروع کولی".(10)

د پـورتني بحث پـه رڼـا کښـې دا خبـره واضـحه شـوه چـې کـاکړ نۀ يـواځې پـه جنـوبي پښـتونخوا کښـې بلکـې د نـړۍ پـه نـورو هيوادونـو کښـې هـم ابـاد دي، نـو څنګـه چـې د کـاکړو اسـتوګنه لـه يـوې مخصوصـې سـيمې سـره تعلـق نۀ لـري ځکـه ممکنـه ده چـې شـمس الـدين کـاکړ دې لـه ژوب نـه، بلکـې لـه بلـه ځايـه راغلـی وي. خـو د شـمس الـدين کـاکړ د شـاعرۍ پـه رڼـا کښـې محققينـو د دۀ د زوکـړې پـه اړه چـې کـومې څېړنـې کـړې دي هغـه هـره يـوه ليکنـه پـه خپـل ځـائ د قـدر وړ ده خـو د هـر محقـق لـه دليـل وړانـدې کولـو سـره د سـړي پـه ذهـن کښـې شـکوك او شـبهات پيـدا کـوي چـې نـورې پلټنـې تـه اړتيـا لـري. لکه د مثال په توګه دا لاندينۍ حوالې ته لږ ځير شئ.

"شمس الدین په قام کاکړ ؤ. د کندهار په علاقه ... کښې پیدا ؤ د ځوانۍ په عمر کښې هند ته تللی ؤ. ډېره موده هلته ؤ. خپل دیوان ئې په 1238ھ کښې ختم کړئ". (11).

له دې اقتباسه دا ثابت کړل شوې ده چې شمس الدین کاکړ په کندهار کښې پیدا شوی ؤ. او د ځوانۍ تر عمره پورې هم هلته په کندهار کښې اوسېدۀ. خو دغه محقق د شمس الدین کاکړ د کندهار د زوکړې په اړه چرې هم څۀ حواله نۀ ده ورکړې. چې له هغې نه دا ثابته شي چې واقعي شمس الدین په کندهار کښې زوکړی ؤ.

د شمس الدین د دیوان اندروني شهادت او بل کوم داسې سند لاتراوسه نۀ دی ترلاسه شوی چې له هغۀ نه د شاعر د زوکړې تصدیق وشي. البته داستوګنې خبره ئې په خپلو شعرونو کښې په دې ډول کړې ده:

لکه لعل چې وي بې قدره په ایرو کښې
هسې پروت دی شمس الدین په کلچ اباد (12)

کندهار رابانـدې تنـګ کـړ رقیبانو
اوس به ځم له لاچاریه و تبس ته (13)

کندهار مې ستا له جوره څخه پرېښو
ځم کابل ته لکه مار زخمي پر ملا یم (14)

ستا د جور و د جفا د زیاتي زوره
شمس الدین شو همسایه د بادیزو (15)

ګلرخان درومي سبا مېلې ته
بابا ولي ته څوك سرپوزي ته (16)

تنها ناست یم د هند خاورې پر مخ مورېم
ائینه مې تاریکي شوه درېغه درېغ (17)

مخ سپېرۀ کړه په ایرو درومه و هند ته
ائینه غوندې خاکسار شه سینګار پرېږده (18)

لــه دې شــعرونو داســې معلــومېږي چــې شــمس الــدين کــاکړ د کنـدهار د کلچاابـاد اوسـېدونکی نـهٔ دی ځکـه چـې خپـل اصـل ټـاټوبی کلـه هم څوك نهٔ غندي که څهٔ هم کله ناکله شکايت ځنې کوي خو ځان په کښې بې قدره نهٔ ورتـه ښکاري او دا چې چاتـه چرې ځان بې قدره ښکاري نو لـه دې څرګنـديږي چـې پـه پـردي وطـن کښـې اوسـي او دا انسـاني فطـرت دی چې څوك په خپـل ټاټوبي کښې نهٔ اوسي هغهٔ تـه پـه پردي ټاټوبي کښې ځان بې قدره ښکاري لکه پير محمد کاکړ چې د پردېسۍ او له خپلو وطنوالو د بې قـدرۍ ګيلـه کـړې ده او دا جذبـه ئـې پـر ټولـه شـاعرۍ غالبـه ده. شـمس الـدين هـم پـه کلـچ اابـاد کښـې د خپلـې بـې قـدرۍ خبـره کـوي يـو شـاعرانه احسـاس دی چـې هـر شـاعر د داسـې خيـال څرګندونـه کـړې ده. پـه کلـچ ابـاد کښـې د يـوازې کـورنۍ حسـاس شـاعر لـه خيـال څخـه داسـې ښـکاري چـې دی کلـچ ابـاد خپـل ټـاټوبی نـهٔ ګڼـي. او ځنـو محققينـو د دهٔ لـه پورتنيـو شـعرونو دا نتيجه اخذ کړې ده چې:

" شـمس الـدين کـاکړ زمـونږ د تـذکرې پـه مهمـو برخـو کښـې حصـه اخلـي مګـر متاسـفانه زمـونږ د اسـلافو د حيـات او ژوندانـهٔ پـاڼې د حوادثـو بـاد او بـاران داسـې وړې دي چـې کـه هرڅـومره پلټنـه کـوو هـيڅ پـه لاس نـهٔ راځـي. د دهٔ پـه بـاب هرڅـهٔ چـې دي هماغـه ديـوان دی چـې لـه دهٔ څخـه يادګـار پاتـه دی. د دهٔ د ديــوان څخــه را معلــومېږي چــې دی د کنــدهار پــه قلــيچ ابــاد کلــي کښې زوکړی او لوئ شوی دی"(19)

پـه ذکـر شوي اقتبـاس هـم د چـا يقينـي تسـلي نـهٔ کيـږي ځکـه چـې شـمس الـدين کـاکړ پـه خپلـې شـاعرۍ کښـې د خپلـې اسـتوګنې د ځـائ پـه حقلـه د کنـدهار د کلـچ ابـاد نـه عـلاوه د نـورو ځـايونو ذکـر هـم کـړی دی، دهٔ پـه خپلـو شــعرونو کښــې کلــه د کلــچ ابــاد ، کلــه د کابــل، کلــه د ســرپوزې، کلــه د بابـاولي خبـره کـړې ده او دغسـې کلـه د تـبس(د ايـران يـو ايالـت) کلـه د هنـد اسـتوګن او کلـه ئـې د بـاديزو همسـايه ځـان بللـی دی. نـو کلـه چـې شـمس الـدين کـاکړ پـه بېلا بېلـو ځـايونو کښـې پاتـه شـوی دی نـو دا امکـان لـري چـې هغـه دې لـه دغـو پورتـه ذکـر شـويو ځـايونو پـه يـوهٔ کښـې پيـدا شـوی وي او دا

هم امکان لري چې هغه دې له دې ځایونو پرته په بل ځای کښې پیدا شوی وي او مازې د اوسېدو تر حده په مذکورو ځایونو کښې پاتې شوی وي.
تر څو پورې چې په مستنده حواله د شمس الدین د زوکړې د ځای تعین نهٔ وي شوی تر هغه پورې د قیاس په بنیاد د هغهٔ د زوکړې ځای په حقله اندازې لګول د تحقیق له جدیدو اصولو سره سمون نهٔ خوري او زما په خیال په دې پورته ټولو ذکر شویو ځایونو کښې یوهٔ ته ترجیح ورکول د ترجیح بلا مرجیح په زمره کښې راځي. نو ځکه د هغهٔ د زوکړې په ځای پسې نوره څېړنه ضروري ده.

# حوالې

(1) هوتك، محمد معصوم، د شمس الدين كاكړ د ديوان مقدمه، صحاف نشراتي مؤسسه كوټه، دويم چاپ، 1388هـ، مخ 15.

(2) حبيبي، عبدالحی، علامه، پښتانۀ شعراء، دوېم ټوك، پښتو ټولنه كابل، 1321هـ ش. مخ 474.

(3) حبيبي، عبدالحی، سالنامه كابل، تاريخچۀ سبكهائ پښتو، 1319هـ ش، مخ 214.

(4) شمس الدين غلجی، ، د سراج الموټی مخطوطه، تدوين او تحقيق عبدالكريم بريالی، ، ناچاپ.

(5) حبيبي، عبدالحی، علامه، پښتانۀ شعراء.

(6) صاحبزاده حميد الله د مرجانو لاړ، صاحبزاده كتاب كور پښين، 1990ء، مخ 41.

(7) واصفي، عزيز الله د شمس الدين كاكړ ديوان، پاييزه، مخ 163.

(8) مركه، د ازادی راډيو، شليفي بطراح كاكړه، مركچي اجمل تورمان، د افغانستان د اسانه پښتو سيمينار په مهال.

(9) اجمل تورمان، د شليفي بطراح كاكړې سره مركه،

(10) مركه، د ازادی راډيو، شليفي بطراح كاكړه.

(11) رضا، افضل، د پښتو غزل، پښتو اكېډمي پېښور، 1978ء، مخ 282.

(12) شمس الدين كاكړ، ديوان، صحاف نشراتي مؤسسه، كوټه، دوېم چاپ، 1388ء مخ 48.

(13) ايضاً، مخ 105.

(14) ایضاً، مخ 92.

(15) ایضاً، مخ 98.

(16) ایضاً، مخ 147.

(17) ایضاً، مخ 69.

(18) ایضاً، مخ 70.

(19) رښتین صدیق الله، پوهاند، پښتانهٔ شعراء، د پښتو ټولنې د خپرونو عمومي نمبر، سرطان، 1321ھ، مخ 470.